پوهنتون
۴ مخ
2 017550 139621

مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱۹مه | د ۲۰۲۱ د فبروري اوومه | ۶۷۶مه ګڼه

# د بایډن دریځ ته منتظر مذاکرات؛

## طالبانو او افغان حکومت یو بل ته د خونړیو بریدونو خبرداری ورکړی


۳

### د امریکا او طالبانو ترمنځ د جګړې د بیا پیل شونتیا
۲ مخ

### د سولې قضیه او د افغانستان اساسي قانون
۲ مخ

### چین کوم بهرنی سیاست تعقیبوي؟
۳ مخ

## کهکشان شرق د لوړو زده کړو موسسه

د دې موسسې په فعالو دریو پوهنځیو کې ۵۰ سلنه ښځینه محصلینې پر لوړو زده کړو بوختې دي او د دې موسسې د ادارې په خبره، دوی ورته ښه امکانات برابر کړي دي.




کرنې وزارت:

## په هېواد کې د زعفرانو سږني حاصلات ۲۱ ټنو ته رسېدلي



کرنې وزارت وايي چې په هېواد کې د زعفرانو سږني حاصلات نږدې ۲۱ ټنو ته رسېدلي دي.
د یاد وزارت په خبره، هرات، بلخ، فاریاب، کندز، فراه او دایکنډي هغه ولایتونه دي، چې د هېواد تر ټولو ډېر زعفران تولیدوي. د کرنې وزارت ویاند اکبر رستمي وايي، د زعفرانو ۴۰۷ ننداریزې کروندې جوړول، ۸۶۰ زعفران کارو مېرمنو ته روزنه ورکول، یو زر او ۸۸۸ نارینه زعفران کارانو ته روزنه ورکول، زعفران کارانو ته په کرونده کې د ۲۰ روزنیزو برنامو ایجاد، د ۲۹ میلیونه او ۴۰۰ زره افغانیو په لګښت د هرات په ولایت کې د زعفرانو د څېړنیز انستیټوټ ودانۍ جوړول او د زعفرانو ۱۸۵ زره او ۵۰۰ کیلوګرامه پیازو وېشل، په ۱۳۹۹ یم کال کې د زعفرانو د کرکېلې د پراختیا او دودولو په پار د کرنې وزارت کړنې دي.
رستمي زیاتوي، په ۱۳۹۹ یم کال کې په نږدې اووه زره او ۹۰۰ هکتاره ځمکه کې زعفران کرل شوي وو چې له دې ډلې تر ټولو ډېر یې په هرات کرل شوي وو.

طالبان:


## که بهرني ځواکونه ونه وځي، ستره جګړه به پیل شي

طالبانو ګواښ کړی چې که ناټو او امریکایي ځواکونه د دوحې تړون پر اساس په مې میاشت کې ونه وځي، نو د امریکا پر وړاندې به جګړه له سره پیل کړي.
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د کانګرېس یوې ډلې د ځواکونو د ایستلو د ځنډ سپارښتنه کړې ده. طالبانو ویلي، که د دوحې تړون لغوه شي، دا به د یوې سترې جګړې سبب شي چې مسوولیت به یې د امریکا پر غاړه وي. طالبانو دغه څرګندونې د دوو ګوندونو د کارپوهانو د هغه راپور په ځواب کې کړې، چې په هغه کې سپارښتنه شوې وه چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو موضوع وځنډول شي.
د یادونې ده چې امریکا د تېر کال په فبروری میاشت کې له طالبانو سره یو تړون لاسلیک کړ، چې له مخې یې په افغانستان کې مېشت ټول بهرني ځواکونه د ۲۰۲۱ز کال د اپریل میاشتې تر پایه پورې په تدریجي ډول له دغه هېواد څخه وځي. طالبانو هم د دغه اقدام په بدل کې ژمنه کړې وه چې تاوتریخوالی به کموي او افغان حکومت سره به د سولې مخامخ مذاکرات پیلوي، خو په دې وروستیو کې پر طالبانو نیوکې ډېرې شوې چې د دوحې د هوکړې خلاف یې جګړې ته زور ورکړی دی. طالبان بیا دا ادعاوې ردوي او وايي چې امریکایي ځواکونو څو څو ځله دغه تړون نقض کړی دی.

## طالبان دې د بې ځایه سفرونو پر ځای د جګړې پر پای ته رسېدو تمرکز وکړي


۵ مخ

## سه سناتور به اتهام گرفتن رشوت به ۱۰ سال زندان محکوم شدند



محکمه ابتدایی مرکز عدلی و قضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری، سه عضو مجلس سنا را که چندی پیش به اتهام گرفتن رشوت از بلخ بازداشت شده بودند، به ۱۰ سال زندان محکوم به مجازات کرد. طبق اعلام لوی څارنوالی، هر یک از متهمان به پرداخت ۴۰ هزار دالر جریمه نقدی به طور «تضامن» نیز محکوم شده‌اند.
محکمه ابتدایی لیاقت‌الله بابکرخیل، محمدانور باشلیق و عظیم قویاش سه عضو مجلس سنا به اتهام مطالبه ۶۰ هزار دالر امریکایی رشوت، روز شنبه، هجدهم دلو در مرکز عدلی و قضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری برگزار شد.
لیاقت‌الله بابکرخیل، محمدانور باشلیق و عظیم قویاش در ترکیب هیأتی از سوی مجلس سنا به هدف بررسی ادارات درآمدزای بلخ از جمله گمرک بندر حیرتان رفته بودند، اما طبق اعلام لوی څارنوالی در هنگام گرفتن ۴۰ هزار دالر به عنوان رشوت از مجموع ۶۰ هزار دالر مطالبه شده، بازداشت شدند.
با این حال، محکمه ابتدایی مرکز عدلی و قضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری حکم ۱۰ سال مجازات و پرداخت ۴۰ هزار دالر را به عنوان جریمه برای این سه عضو متهم به فساد اداری مجلس سنا صادر کرده است. براساس قانون، متهمان حق دارند که استیناف‌خواهی کنند.
محکمهٔ ابتدایی مرکز عدلی و قضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری، سه سناتور را به ده سال و یک ماه بند تنفیذی و پرداخت چهل هزار دالر جریمهٔ نقدی محکوم کرد.

سلیقه
Saleeqa
مجتمع خدماتی سلیقه
SALEEQA SERVICES COMPLEX
قالین شوئی سلیقه
کیفیت عالی شستشوی قالین های تانرا با ما تجربه نمائید.
0785 211 225 / 0777 111 225 / 0747 111 225 / 0707 111 225 / 0790 111 225
بین چهار راهی تایمنی و سرسبزی، کابل، افغانستان
قالین شوئی
موتر شوئی
رستورانت
مبلایل تبدیلی
حمام و اصلاح موی
قالین شوئی سلیقه

## سرلیکنه

# د امریکا او طالبانو ترمنځ د جګړې د بیا پیل شونتیا

له هغه وروسته چې د امریکا د ګانګرېس له خوا ګومارل شوې د افغانستان د مطالعې ډلې د دوحې د هوکړې خلاف له افغانستان څخه د ځواکونو په وتلو کې د ځنډ وړاندیز وکړ، د طالبانو او امریکا ترمنځ د جګړې د بیا پیل خبرې کېږي. ویل کېږي چې طالبانو هم جګړې ته تیاری پیل کړی او تازه ان بي سي تلوېزیون ویلي چې د طالبانو جنګي او سیمه‌ییزو مشرانو ته ویل شوي چې جګړې ته تیاری ونیسي.

اوس پوښتنه دا ده چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د جګړې د بیا پیل شونتیا شته؟

د امریکا او طالبانو د هوکړې پر اساس ټول بهرني ځواکونه باید په ۱۴ میاشتو کې له افغانستان څخه ووځي. تر راتلونکې مې میاشتې پورې دا وخت پوره کېږي او په پاتې موده کې باید ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي. که څه هم اوس یوازې ۲۵۰۰ امریکایي ځواکونه په افغانستان کې پاتې دي، خو اوس د امریکا له اړخه د ځواکونو په وتلو کې د ځنډ خبرې کېږي. امریکایان وایي چې طالبانو د دوحې هوکړه نه ده عملي کړې؛ تاوتریخوالی یې نه دی کم کړی او له القاعدې سره یې اړیکې نه دي پرې کړي، نو ځکه باید وتل په دې پوره وتړل شي چې طالبان هوکړه عملي کړي. امریکایان دا هم وایي چې که دوی ووځي، طالبان به په زور په کابل کې حکومت سقوط کړي، ځکه چې د سولې په بین الافغاني خبرو کې پرمختګ نه دی شوی. طالبان بیا یو مخ وایي چې دوی په هوکړه عمل کړی، القاعده نشته او تاوتریخوالی یې هغسې کم کړی چې له امریکا سره پرې توافق شوی دی. طالبان ټینګار کوي چې که امریکایي ځواکونه تر ټاکلې نېټې ونه وځي، نو دوی به پرې بریدونه وکړي. له بله اړخه افغان حکومت هم د امریکا په وروستي دریځ خوښي څرګنده کړې او پرون یې ویلي چې طالبان سوله نه کوي او دوی جګړې ته تیاری نیسي.

د طالبانو په اړه د امریکایي چارواکو وروستي څرګندونې او دریځونه تر ډېره د فشار لپاره دي. دوی غواړي چې پر طالبانو فشار راولي، د ځواکونو د وتلو موده یو څه نوره هم وغځوي او طالبانو د ځینو نورو مسایلو منلو ته اړ کړي، خو که خبره رښتیا هم د طالبانو له اړخه تر جګړې ځي، نو امریکا به شاتګ کوي، ځکه چې امریکا نه غواړي له طالبانو سره بېرته جګړه پیل کړي. طالبان هم نه غواړي چې له امریکا سره جګړه بیا پیل کړي، له همدې امله سیاسي هلې ځلې کوي. ایران، روسیې او بیا ښایي چین ته یې سفرونه هم همدا موخه تعقیبوي چې پر امریکا فشار راوړي. دواړه اړخونه جګړې ته تمایل نه لري، خو پر یو بل فشار راوړي او د دې شونتیا هم شته چې که طالبانو ته ډېر امتیاز ورکړل شي، نو د ځواکونو په وتلو کې به یو کوچنی ځنډ هم ومني. البته دا به دوه اړخیزه معامله وي، خو دواړه لوري به بیا تر جګړې ولاړ نه شي.

که امریکا او طالبان بیا جګړه نه کوي او دواړه اړخونه نه غواړي، نو افغاني اړخونه دې هم د جګړې لپاره تیاری نه نیسي. دوی باید پر سوله ټینګار وکړي، د افغان وژنه باید بنده شي او دواړه اړخونه باید د سولې خبرې جدي وګڼي او د خنډونو پر ځای دې سولې ته لاره هواره کړي.

# د سولې قضیه او د افغانستان اساسي قانون

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

اساسي قانون هغه لوړ ملي سند دی، چې پر بنسټ یې د یو هېواد د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، قضایي او ... نظام ډول ټاکل کېږي. که چېرې یو هېواد خپلواکي اخلي، نو نوی رامنځته‌شوی هېواد تر هرڅه د مخه د اساسي قانون په جوړولو اقدام کوي، ځکه له اساسي قانون څخه پرته هېڅکله یو سیاسي نظام نه شي رامنځته کېدای. د بېلګې په ډول، کله چې په ۱۷۷۶ کال کې د امریکا متحده ایالاتو له برېتانیا څخه، په ۱۹۴۷ کال کې پاکستان له برېتانوي هند څخه، په ۱۹۷۱ کال کې بنګله‌دېش له پاکستان څخه، له لومړي او دویم نړیوال جنګ څخه وروسته یوګوسلاویا او چکوسلواکیا او داسې نورو هېوادونو خپلواکي تر لاسه کړې، نو د یو قانوني سیاسي نظام د جوړولو په موخه یې لومړنی کار د اساسي قانون جوړول وو او بیا یې د همغه اساسي قانون په رڼا کې د خپل سیاسي نظام بنسټ کېښود. لنډه دا چې له اساسي قانون پرته یو سیاسي نظام نه شي تعریفېدلای.

په افغانستان کې هم چې کله د طالبانو نظام له منځه لاړ او د نوي سیاسي نظام د تشکیل لپاره د بُن کانفرانس جوړ شو، نو دغه کانفرانس د یو قانوني سیاسي نظام د رامنځته‌کېدو لپاره درې پړاوونه وټاکل (موقته دوره، انتقالي دوره او انتخابي دوره).

پوښتنه دا ده چې د سیاسي نظام د ایجاد لپاره ولې درې پړاوونه وټاکل شول؟ ولې مستقیماً انتخابي نظام رامنځته نه شو؟ دلیل یې همدا دی، چې هغه مهال په افغانستان کې نافذ اساسي قانون موجود نه و، د موقتې او انتقالي دورې ستره دنده دا وه، چې د نوي اساسي قانون طرحه چمتو او د لویې جرګې له لارې یې تصویب کړي، څو د همغه اساسي قانون په رڼا کې یو انتخابي حکومت رامنځته شي.

موقت حکومت او له اساسي قانون سره یې تړاو

له څه وخت راهیسې چې له طالبانو سره د سولې مذاکرات پیل شوي، له همغه وخته د موقت حکومت اوازه هم په بېلابېلو وختونو کې خپره شوې او دلیل یې دا دی، چې د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ د دوحې په تړون کې له طالبانو سره په دې هوکړه شوې، چې په نوي سیاسي نظام کې به هغوی برخه‌وال وي. نو کله چې د طالبانو راګډېدل سیاسي نظام ته حتمي دي، طبیعي خبره ده، چې طالبان به د نوي سیاسي نظام لپاره ځینې شرطونه ولري او د دغو شرطونو له ډلې څخه یو هم د اساسي قانون تعدیل دی. د اساسي قانون پر تعدیل بحث، د ټکر او اتفاق د مواردو تشخیص، بیا یې طرحه اماده کول او د نوي سیاسي نظام د ډول تعریفول هغه اوږده پروسه ده، چې کېدای شي کلونه وخت ونیسي، نو د دې لپاره چې جنګ ودرېږي او اوربند وشي، دې ته اړتیا ده، چې په کلي مسایلو اتفاق وشي او تر هغه وروسته موقت حکومت رامنځته شي. بیا موقت حکومت تر هغو ادامه پیداکړي، څو چې لویه جرګه د اساسي قانون د تعدیل طرحه تصویبوي. پر همدې بنسټ له اساسي قانون سره د موقت حکومت تړاو دا دی، چې نوی سیاسي نظام له اساسي قانون پرته نه رامنځته کېږي او د اساسي قانون تعدیل وخت غواړي، څو دقت پکې وشي. اوس که چېرې د اساسي قانون تعدیل ته انتظار وباسو، نو خونړی جنګ به مو لا وځپي او که یې نه باسو او اوربند کوو، بیا یې حللاره موقت حکومت دی او د نوي اساسي قانون تر رامنځته‌کېدو پورې موږ د موقت حکومت د جوړېدو نمونه په ۱۳۸۱ کال کې تجربه کړې هم ده.

د اساسي قانون د تعدیل قضیه

تعدیل په اساسي قانون کې د بدلونونو راوستل دي. د افغانستان په اساسي قانون کې دا بدلونونه هغه وخت راوستل کېږي، کله چې په اساسي قانون کې کومه خلا وي، مواد یې له اسلام سره یا هم په خپل منځ کې ټکر ولري او یا هم د یو نوي تشکیل اضافه‌کولو ته اړتیا وي. لغوه اکثراً د نظامونو په بدلون پورې اړه لري، یانې کله چې کودتا، انقلاب او یا هم داسې یو نظام رامنځته شي، چې په مکمل ډول د اساسي قانون له موادو سره مخالف وي، نو بیا اساسي قانون لغوه کېږي او بل اساسي قانون یې پر ځای رامنځته کېږي.

پوښتنه دا ده چې د سولې په اوسنیو مذاکراتو کې د اساسي قانون تعدیل ته اړتیا ده او که لغوې ته؟ د افغانستان د تېرو نږدې شلو کلونو په لاسته‌راوړنو کې یوه هم د افغانستان اوسنی اساسي قانون دی. د سیمې په کچه زموږ د هېواد اساسي قانون له غوره اساسي قوانینو څخه یو ګڼل کېږي. ستونزې به لري؛ خو ستونزې یې تر دې کچې نه دي، چې په مکمل ډول لغوه شي او پر ځای یې بل اساسي قانون رامنځته شي. کومې ستونزې چې قانونپوهانو ته معلومې دي، هغه او هغه ستونزې او غوښتنې چې طالبان یې د اصلاح غوښتونکي دي، ټولې باید په همدې اساسي قانون کې ځای‌پرځای شي، ځکه افغان حکومت هم د سولې د مذاکراتو یو اړخ دی او هېڅکله به دې ته اماده نه شي، چې اساسي قانون دې پوره لغوه شي. حللاره دا ده، چې په همدې اساسي قانون کې دې ستونزې له منځه یوړل شي او د طالبانو مشروع غوښتنې دې پکې ځای‌پرځای شي، څو دواړو لوریو ته د منلو وړ شي او اختلاف له منځه لاړ شي.

اوسنی اساسي قانون کومې ستونزې لري؟

د افغانستان د اساسي قانون ستونزې له دوو اړخونو څخه د بحث وړ دي، یو اړخ یې دا دی، چې حقوقپوهان یې د خپل علم پر بنسټ د تعدیل او اصلاح وړ بولي او بل اړخ یې دا دی، چې طالبان یې د تعدیل او اصلاح غوښتونکي دي. په موجوده وخت کې یې تر ټولو مهم اړخ همدا دویم اړخ دی، ځکه د سولې ټوله پروسه او قضیه په همدې اړخ پورې تړلې ده.

د اساسي قانون ستونزې او نیمګړتیاوې په دریو لویو برخو ویشلای شو: لومړی ستونزه دا ده، چې اساسي قانون ځینې داسې مواد لري، چې هغه له اسلامي شریعت سره اړخ نه لګوي، دویم یې حقوقي او تخنیکي ستونزې دي او درېیم یې ادبي، املایي او انشایي ستونزې دي. دا کوچنی تحلیل دومره نه دی، چې پورتنۍ ټولې ستونزې دلته وڅېړي؛ ولې د مثال په توګه یې ځینې مادې یادولای شو، په تېره هغه مادې چې له اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي، چې په هغو کې څلورمه، شپږمه، اوومه او لسمه ماده په ځانګړي ډول د یادونې وړ دي (په دغو څلورو مادو کې څلورمه او اوومه ماده داسې دي، چې د اصطلاحاتو د مشخص نه تعریف له امله یوازې د هغو متن داسې برېښي، چې له اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي؛ ولې د مقنن هدف او حقوقي تحلیل یې کېدای شي توجیه شي، د بېلګې په ډول، په څلورمه ماده کې د ملي حاکمیت اصطلاح هغه اصطلاح ده، چې علماء پرې انتقاد کوي او وایي چې دې ماده کې ملي حاکمیت خلکو ته ورکړل شوی او په اسلام کې حاکمیت له الله تعالی سره دی؛ خو که چېرې موږ د مادې ټول متن په دقیق ډول مطالعه کړو، نو له دغه ملي حاکمیت څخه موخه هېڅکله هم دا نه ده، چې د الله تعالی حاکمیت دې خلکو ته ورکړل شي او یا دې له ملي حاکمیت څخه هدف هغه لوړ قدرت وي؛ بلکې په دې ماده کې له ملي حاکمیت څخه هدف یوازې اجرایي اړخ او د استبداد د مخنیوي په موخه د حکومتي چارواکو د ټاکنې موضوع مطرح ده، چې خلک کولای شي خپل حکومتي چارواکي او استازي په مستقیم او یا غیرمستقیم ډول وټاکي.

بله موضوع چې علماء پرې انتقاد کوي او هغه له اسلامي شریعت سره په ټکر کې ګڼي، هغه اوومه ماده ده، چې په هغې کې ډېر جدي نقد د بشر حقوقو په نړیواله اعلامیه دی، په دې چې د هغې ځینې مادې له اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي او په دې ماده کې د دې اعلامیې رعایت بې‌قیدوشرطه منل شوی دی؛ ولې په دې اړه باید یادونه وکړو، چې د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه د نړیوالو عرفي حقوقو برخه ده، یانې یوازې اعلام دی او کوم حقوقي الزامي اړخ نه لري؛ بلکې یوازې له اخلاقي پلوه غړي دولتونه مکلف دي، چې دغه اعلامیه تطبیق کړي او که یې تطبیق نه کړي، نو داسې کوم نړیوال اجرایي قدرت نشته، چې په زوره یې پرې تطبیق کړي. بله موضوع دا ده چې د دې اعلامیې مواد هغه مهال د تطبیق وړ دي، کله چې په داخلي ملي قوانینو کې په تفصیلي ډول ذکر شي او د بشر حقوقو د نړیوالې اعلامیې هغه مواد چې له اسلام سره په ټکر کې دي، د افغانستان قوانینو د حق په ډول نه دي ذکر کړي او هغو ته یې مشروعیت نه دی ورکړی. د بېلګې په ډول، د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه د عقیدې بدلولو اجازه ورکوي؛ خو د افغانستان قوانینو او محاکمو افغانانو ته هېڅکله دا حق نه دی ورکړی. یا د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه ښځې ته د طلاق حق ورکوي؛ خو د افغانستان مدني قانون او محاکمو د ښځې لپاره دا حق نه دی منلی. البته وړاندیز دا دی، که چېرې دا مادې تعدیل شي او دا اصطلاحات لا واضح شي، نو دغه شکونه او انتقادونه به له منځه لاړ شي. شپږمه او لسمه ماده چې په یوه کې د ډیموکراسۍ د تحقق موضوع د دولت دنده ګڼل شوې او په بله کې ازاد اقتصادي بازار منل شوی، دواړه له اسلام سره په ټکر کې دي او باید تعدیل شي، چې په حقوقي لحاظ هېڅ ډول توجیه ورته نه شو موندلای.) هغه مادې چې حقوقي او تخنیکي نیمګړتیاوې لري، د هغو له ډلې دوه‌ویشتمه، پنځه‌ویشتمه، دوه‌شپېتمه، درې‌شپېتمه، اووه‌شپېتمه، نهه‌شپېتمه، دوه‌اویایمه، نهه‌اویایمه، یوسلو اوولسمه او یوسلو درې‌څلوېښتمه ماده په ځانګړي ډول د یادونې وړ دي او کومې مادې چې ادبي، املایي او انشایي غلطۍ لري، د هغو تعداد له سلو اوړي.

د دویم اړخ له مخې په اساسي قانون کې داسې ستونزې شته، چې طالبان یې د ستونزو په توګه ګڼي. دا لا جوته نه ده، چې طالبان په دقیقه توګه د اساسي قانون له کومو موادو سره ستونزه لري؛ خو په اټکلي ډول کولای شو چې د ځینو مواردو وړاندوینه وکړو:

په اساسي قانون کې د جمهوریت پر اصل ولاړ سیاسي نظام نه منل؛

د ملي حاکمیت قضیه د الهي حاکمیت پر ځای او په مطلق ډول د نړیوالو اسنادو د رعایت موضوع؛

د اتباعو د اساسي حقوقو او وجایبو په څپرکي کې له ځینو حقوقو سره حساسیت، د بېلګې په ډول په دوه‌ویشتمه ماده کې د ښځې او نر د مساواتو موضوع، په درې‌دېرشمه ماده کې جمهوري ریاست ته د ښځې د کاندیدو موضوع، د بیان د ازادۍ حق او داسې نور...؛

په پنځم څپرکي کې تعریف شوې شورا، چې پر بنسټ یې ملي شورا په ولسي جرګې او مشرانو جرګې ویشل شوې ده، کېدای شي هغوی ته د شورا دا چوکاټ د منلو وړ نه وي او د شورا په اړه هغوی خپل تعریف او برداشت ولري؛

د اساسي قانون د لسمې مادې پر بنسټ تعریف‌شوی اقتصادي نظام، ځکه هغوی تل د اسلامي نظام تر چتر لاندې د اسلام د اقتصادي نظام خبره هم یاده کړې ده؛

همدارنګه کېدای شي د قضاء د نظام په اوسني ډول کې هم ځینې تعدیلات وغواړي.

دا یوازې هغه موارد دي، چې د طالبانو د مفکورې پر بنسټ یې تر یوه حده وړاندوینه کېدای شي، خو د طالبانو لخوا پرې رسمي تصریحات نشته.

په پای کې باید یادونه وکړو، چې د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون د دغو ګوتو په شمار نیمګړتیاوو تر څنګ، ډېرې داسې ښېګڼې لري، چې د سیمې د اکثره هېوادونو په اساسي قوانینو کې نه لیدل کېږي. د بېلګې په ډول، د استبداد مخنیوی پکې په ډېر ښه ډول شوی دی، د اتباعو اساسي حقوق او وجایب ډېر کامل او جامع دي، اداري او سیاسي سیستم پکې په منظم ډول تعریف شوی او تر ټولو مهم دا چې د اسلام د مبارک دین احکامو ته په اکثره موادو کې ارجحیت ورکړل شوی او احترام یې ساتل شوی. تاسې کولای شئ چې د اساسي قانون په لومړۍ، دویمې، درېیمې، اوه‌لسمې، اتلسمې، نولسمې، شلمې، دوه‌شپېتمې، درې‌شپېتمې، څلوراویایمې، یوسلو نولسمې، یوسلو دېرشمې، یوسلو نهه‌څلوېښتمې او ځینو نورو مادو کې هغه موضوعات مطالعه کړئ، چې زموږ اساسي قانون په څه ډول اسلامي احکامو ته ترجیح ورکړې.

وروستۍ خبره

دا تحلیل په داسې حال کې لیکل کېږي، چې په دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت د مرکچې پلاوو تر منځ د سولې مذاکراتو دویم پړاو روان دی. له اکثره ښکېلو خواوو سره دا تشویش موجود دی، چې د مذاکراتو یوه ستره برخه چې هغه د افغانستان پر اساسي قانون بحث دی، شاید ډېر لانجمن شي او ښکېلې خواوې کېدای شي پرې اتفاق ته ونه رسیږي؛ خو زموږ له پورتني تحلیل څخه دا جوتېږي، چې د سولې د مذاکراتو پر مهال د اساسي قانون بحث دومره لانجمن نه دی؛ بلکې کېدای شي په ډېرې اسانۍ د اساسي قانون د موادو پر سر د دواړو لوریو تر منځ اتفاق راشي، ځکه اختلافي ټکي پکې کم دي. البته دا خبره اړینه ده، چې د اساسي قانون د تعدیل پر مهال باید له ډېر دقت کار واخیستل شي، څو پخوانۍ تېروتنې بیا تکرار نه شي، چې بیا تعدیل ته اړتیا ولري او یا هم قانونپوهان پرې نیوکې وکړي. د اوسني وخت اولویت دا دی، څو په یو داسې حکومت اتفاق وشي، چې ښکېلې ټولې خواوې پکې دخیلې وي او دا حکومت تر هغو ادامه پیدا کړي، تر کله چې د اساسي قانون مسوده نهایي کېږي او کله چې د اساسي قانون مسوده نهایي شي، بیا د همغې وثیقې په رڼا کې د ملي مصالحې او د افغانستان د استقرار نور پړاوونه پرمخ یوړل شي. وړاندیز مو دا دی، که چېرې د اساسي قانون په نوې مسوده کې لاندې مواد او ارزښتونه ځای‌پرځای شي، کېدای شي د دواړه لوریو اتفاق پرې ممکن شي:

۱- د تشریع په برخه کې الهي حاکمیت او په اجرایي برخه کې ولسواکي په پوره وضاحت سره ذکر او ومنل شي؛

۲- په مصالح مرسله او اجتهادي امورو کې واک ملي او منتخبې شورا ته ورکړل شي؛

۳- د قدرت او حکومت د مشروعیت او بدلون یوازینۍ لاره خپلواکې، رڼې او عادلانه ټاکنې وي؛

۴- د اسلامي شریعت، ملي قوانینو او د بشر حقوقو د اړوندو نړیوالو اسنادو په رڼا کې د اتباعو اساسي حقوق او ازادۍ په پراخه کچه خوندي کړل شي.

۵- یوې مرجع ته دې د قدرت د تمرکز مخه پکې ونیول شي او واک دې داسې تقسیم شي، چې د هر ډول استبداد مخه پرې ډب شي.



# چین کوم بهرنی سیاست تعقیبوي؟

لیکنه: وانگ یو
په افغانستان کې د چین لوی سفیر

چین تل د سولې خپلواکه بهرنۍ تګلاره تعقیب کړې او د سولې د پنځو اصولو پر اساس یې له نورو هیوادونو سره دوستانه همکارۍ کړې دي. چین د یادې تګلارې پر بنسټ د نړۍ له ۱۷۹ هیوادونو سره ډیپلوماتیکې اړیکې جوړې کړې او له ۱۱۰ هیوادونو او سیمه ییزو سازمانونو سره یې په بېلابېلو کچو اړیکې او همکارۍ رامنځته کړې دي. چین تل د چینایانو لپاره د خوښۍ غوښتلو او د بشر د پرمختګ لپاره د خدمت اصلي اراده ساتلې او د نړۍ د سولې او پرمختګ په برخه کې یې رغنده رول لوبولی دی او لوبوي یې. چین د نورو هیوادونو په داخلي چارو کې لاسوهنه نه کوي، سیستمونه او ماډلونه نه صادروي او هیڅکله به داسې کړنې ونه کړي، چې د ځاني ګټو لپاره نورو ته زیانونه ورسوي او یا د ګاونډیانو د پرمختګ پر وړاندې خنډونه جوړ کړي.

په نوي عصر کې د چین د ډیپلوماسۍ هدف د بشر د ګډ برخلیک ټولنې ابادول دي. رییس شي جین پینګ څو ځلې په خپلو خبرو کې دې ته اشاره کړې چې «موږ په یوه داسې نړیوال کلي کې ژوند کوو، چې تاریخ او واقعیتونه یې له یو بل سره ګډیږي. انسانیت د ګډ برخلیک یوه ټولنه ده چې هر یو له بل سره نه جلاکېدونکې اړیکې لري. هیڅ یو هیواد د بشر د مختلفو ننګونو پر وړاندې په یوازې ځان مقابله نه شي کولی.» چین په دې باور دی، چې د نړۍ ټول هیوادونه دې یو له بل سره همکارۍ وکړي، په ګډه دې د سوله ییز پرمختګ لاره تعقیب کړي او د نوي ډول نړیوالو اړیکو رامنځته کولو ته دې داسې وده ورکړي، چې د متقابل احترام، عدالت او د ګډو ګټو همکارۍ پر اساس ولاړې وي او د نړۍ تلپاتې سوله، امنیت، ګډه هوساینه او ورخلاصون دې وساتي او لنډه دا چې پاکه او ښکلې نړۍ دې ابادې کړي.

چین د بشر د ګډ برخلیک ټولنې غوښتونکی او جوړوونکی دی. چین په ۱۹۹۷ کال کې د اسیا مالي بحران او په ۲۰۰۸ کال کې د نړیوال مالي بحران سره په مبارزو کې عمده خدمتونه تر سره کړي دي. چین د تر ټولو لوی پرمختیایي هیواد په توګه همیشه نورو پرمختیایي هېوادونو ته پاملرنه کړې، د ۲۰۱۹ کال تر پایه پورې یې څه د پاسه ۱۶۰ هیوادونو او نړیوالو سازمانونو ته کابو ۴۰۰ میلیارده یوانه پیسې ورکړې، کابو ٦ سوه زره مرستندویه کارکوونکي یې ورلېږلي، چې په دغو کارکوونکو کې څه د پاسه ۷۰۰ تنو یې خپل خوږ ژوند قربان کړی دی. چین د کوویډ-۱۹ ناروغۍ له خپریدو سم، د دې وبا ضد نړیوالې همکارۍ ته فعاله وده ورکړې، د خپل ولسي جمهوریت په تاریخ کې یې د بشردوستۍ تر ټولو لوی مرستندویه کارونه تر سره کړي دي. چین څه دپاسه ۱۵۰ هېوادونو او نړیوالو سازمانونو ته د وبا ضد مرستندویه مواد برابر کړي او افغانستان ته یې شپږ ځلې د وبا ضد مواد ورکړي او په مؤثره توګه یې د ناروغۍ ضد موادو په اړه نړیوال تولید او تحویل تضمین کړی دی. تاریخ او حقایقو ثابته کړې، چې چین همیشه د نړۍ د برخلیک په نازک وخت کې حاضر شوی او پر خپله ژمنه ولاړ پاتې شوی دی.

چین د اسیا د ګډ برخلیک ټولنې د ابادۍ لپاره کوشښونه کوي او د ډیپلوماسۍ عمده لوری یې ګاونډي هېوادونه دي. چین همیشه د دوستۍ، صداقت، ګډو ګټو او زغم اصولو ته غاړه ایښې ده او له ګاونډیو سره یې نیکې او دوستانه اړیکې ساتلې او د ګاونډیو د ارامتیا او سمسورتیا لپاره یې بریالۍ ډیپلوماسي پر مخ وړې ده. چین خپل ګاونډي هېوادونه د ګډ پرمختګ او سولې ساتلو په برخه کې همکاران او ریښتیني ملګري بولي. چین له ګاونډیو هیوادونو سره ښه ګاونډیتوب ساتي او دوستانه اړیکې ورسره پیاوړې کوي، دوستانه همکارۍ هڅوي او په پام کې لري، چې د نږدې اړیکو دوستانه شبکه جوړه کړي. چین د کوویډ-۱۹ پر ضد له ګاونډیو هیوادونو سره واقعي همکارۍ کوي، ګډې ګټې زیاتوي، د خلکو تر منځ نږدیوالۍ هڅوي او د اسیا د ګډ برخلیک ټولنې د ابادۍ لپاره یې ټینګ ګامونه پورته کړي دي.

چین او افغانستان له اوږدې مودې راهیسې د ګډ برخلیک ملګري دي. د دواړو هیوادونو تر منځ دوستي اوسنۍ نه؛ بلکې «د ورېښمو لرغونې لارې» پخوانی زمانې ته ورګرځي. د دواړو هیوادونو پر اړیکو تر ۲۰۰۰ ډېر کلونه تېر شوي، خو هیڅکله یې خپلمنځي شخړه نه ده کړې، چې دا د نړیوالو اړیکو په تاریخ کې یوه بې ساري بېلګه بلل کیږي. د دواړو هیوادونو د نوي زماني اړیکې په لا ټینګېدو دي. چین او افغانستان د امپریالېزم او استعمار پر وړاندې مبارزه کې له یو بل څخه ملاتړ کړی، په ګډه یې د ملي خپلواکۍ او غښتلیتوب لپاره هلې ځلې کړې او د ملګرو ملتونو د پراختیا له اجنډا څخه یې ګډ ملاتړ کړی او د نړیوال ترویزم او بین المللي جرمونو پر وړاندې یې ګډه مبارزه کړې ده.

چین همیشه د افغانستان بیارغونه له خپل پرمختګ سره تړلې بللې ده. چین د دې هرڅه هرکلی کوي، چې افغانستان یې له اسانتیاوو څخه ګټه واخلي، د خپلې جغرافیې او سرچینو امتیازي رول ولوبوي او د چین د یو کمربند او یوې لارې په وړاندیز کې فعال ګډون وکړي. چین خپل پیاوړي شرکتونه هڅوي، چې په افغانستان کې پانګونه وکړي، ښوونځي او روغتونونه جوړ کړي او د افغانستان د ځانګړو کرهنیزو محصولاتو لپاره ( زعفران، جلغوزي او نور...) په چین کې بازار پیدا کړي، څو افغان بزګران او سوداګر ترې ګټې واخلي. چین له ۲۰۰۱ کال راهیسې له افغانستان سره په میلیاردونو یوانه وړیا مرسته کړې او د کابل جمهوریت روغتون او ملي مسلکي تخنیکي انسټېټیوټ په ګډون یې ځینې زیربنایي پروژې جوړې کړې، چې افغانانو ته یې ګټې رسولې دي. چین په وروستیو کلونو کې د افغانستان د وارداتو دویم لوی او د صادراتو درېیم لوی لوری پاتې شوی دی. تر دې دمه یې افغانستان ته شپږ ځله د کوویډ-۱۹ وبا ضد مواد برابر کړي، چیني ډاکټرانو څو ځله له افغان ډاکټرانو سره انلاین غونډې کړې او د کوویډ-۱۹ وبا ضد تجربې یې ورسره شریکې کړې دي.

چین د افغانستان د سولې او پخلاینې پروسې ملاتړ کوونکی، منځګړی او تسهیل کوونکی دی او هیله لري، چې په افغانستان کې ارامي، سوله او ثبات راشي. چین د «افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په مالکیت» د خبرو او سولې ملاتړ کوي او د هیواد دننه او سیمه ییزو ګډو نظریو په راټولولو، د شخړې د اړوندو خواوو تر منځ ډیالوګ هڅوي او له بین الافغاني مذاکراتو څخه ملاتړ کوي. چین غواړي چې د چین، افغانستان او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو د خبرو اترو میکانېزم له لارې د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکې ښې کړي او هڅه کوي، چې افغانستان د بېلابېلو هېوادونو تر منځ د همکاریو بندر وګرځي، نه د سیالیو ډګر او نړیواله ټولنه هڅوي، چې د افغانستان د سولې په اړه ګډې موافقې ته ورسیږي.

څه موده مخکې د متحده ایالاتو یوه لوړ پوړي چارواکي وویل، چې ډونالډ ټرمپ ته خبر رسیدلی، چې چین هڅه کوي څو غیر دولتي افرادو ته پیسې ورکړي، څو په افغانستان کې پر امریکایي سرتیرو بریدونه وکړي. د چین پر وړاندې دا ډول تورونه په بشپړ ډول بې مانا دي او بېخي جعلي خبرونه دي. د دوی دغه خبرې او تورونه دا په ډاګه کوي، چې دوی څومره لیواله دي، چې چین بدنام کړي او د چین- امریکا اړیکې زیانمنې کړي. د دې تر څنګ، دوی پر چین تور لګولو ته زور ورکړ او د شینجیانګ او بشري حقوقو مسئلو په پلمو یې جعلي خبرونه خپاره کړل او د چین او نورو هېوادونو د اړیکو پر وړاندې یې خنډونه جوړ کړي دي، خو د دوی ټول هغه تش په نوم «حقایق» او «شواهد» جعلي او بې اساسه ثابت شوي دي. چین همیشه د سولې خپلواکه بهرنۍ تګلاره تعقیبوي، هیڅکله یې له بهرنیو هیوادونو سره جګړه نه ده کړې او له غیر دولتي افرادو څخه به ملاتړ ونه کړي، چې په نورو هیوادونو کې بریدونه وکړي. چین همیشه د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې اصل ته غاړه ایښې ده، په افغانستان کې د سولې او روغې جوړې له پروسې یې ملاتړ کړی او د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله نه کوي. نړۍ په دې اړه عادلانه ځواب لري، چې څوک په نړۍ کې زور زیاتی او «پراکسي جنګونه» کوي او څوک تضاد رامنځته کوي او سیمه ایز امن او ثبات زیانمنوي؟

افغان ملګري وایي، چین په تاریخ کې پر افغانستان هیڅ تیری نه دی کړی او د افغانستان تر ټولو باوري هېواد دی. اوسنۍ نړۍ له بې باورۍ او بې ثباته عواملو څخه ډکه ده او افغانان د چین او افغانستان تر منځ قوي دوستانه اړیکې احساسولی شي. دا د چین او افغانستان په دوه اړخیزو اړیکو کې د چین د سوله ییز بهرني سیاست او له ګاونډیو هیوادونو سره د ښه ګاونډیتوب څرګندوني دي. چین به له افغانستان سره ګډ کار ته دوام ورکړي، د ګډ برخلیک ټولنه به اباده کړي او یو ځای به ګډ پرمختګ ومومي، څو پر افغانانو د سولې، ثبات او پرمختګ لمر څرک ولګیږي.

# د بایډن دریځ ته منتظر مذاکرات؛

## طالبانو او افغان حکومت یو بل ته د خونړیو بریدونو خبرداری ورکړی



د سولې له کاواکه بهیر سره هممهاله داسې ګنګوسې خپرې شوې چې طالبان او افغان حکومت دواړه د امریکا د نوي ولسمشر جو بایډن پرېکړې ته په تمه دي او له همدې امله دواړه لوري په مذاکراتو کې سستي کوي، خو پر ځای یې د خونړیو جګړو د پیلېدو خبرداري ورکوي.

تازه امریکایي چارواکو له افغان چارواکو سره په خبرو کې د سولې له خبرو ملاتړ کړی او افغان حکومت هم ویلي چې دوی د سولې غوښتونکي دي، خو طالبانو د مذاکرې میز پرې ایښی دی او د سولې نیت نه لري. طالبانو بیا له امریکا غوښتي چې پر ژمنو یې عمل وکړي او که داسې و نه شي نو خونړۍ جګړه به پیل کړي.

له څه باندې دریو میاشتو راهیسې په دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ بین الافغاني مذاکرات پیل شوي، خو داسې ویل کېږي چې دغه مذاکرات هېڅ راز پرمختګ نه لري او په دویم پړاو کې یې پرمختګ له صفر سره مساوي دي. افغان پلاوی وایي، دوی په دوحه کې دي، مذاکراتو ته تیار دي، خو طالبانو په ځلونو له لیدنو ډډه کړې او له مذاکراتو په شا کېږي. تازه د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي مشر معصوم ستانکزي په یوه خبري کنفرانس کې د سولې په بهیر کې د چټکتیا غوښتنه هم کړې ده. نوموړي ویلي، د سولې خبرې باید چټکې کړل شي؛ ځکه په افغانستان کې د دایمي سولې او اوربند اړتیا ده او خلک له جګړو ستړي شوي دي.

افغان حکومت بیا له امریکایي لوري سره په خبرو لګیا دی. په تېرو څو ورځو کې ګڼو امریکایي چارواکو له افغان ولسمشر او نورو چارواکو سره پر افغان سوله خبرې کړې دي. تازه په تازه د امریکا د دفاع وزیر له ولسمشر غني سره د دوه اړخیزو نظامي اړیکو تر څنګ پر افغان سوله هم خبرې کړې دي. د ده په وینا، دوی په افغانستان کې د داسې سولې ملاتړ کوي چې دلته د دایمي اوربند سبب شي او اوږدې جګړې پای ته ورسوي. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي: «د امریکا دفاع وزیر د دې ترڅنګ چې د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو قربانۍ وستایلې، وویل، د هېواد نوی حکومت یې د سولې هغې پایداره پروسې چې د افغانانو په ګټه وي او په پایله کې یې دایمي اوربند ترلاسه شي، ملاتړ کوي».

د دې تر څنګ د افغان ولسمشر د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب هم د افغان سولې د روان بهیر په اړه تازه څرګندونې لرلې دي. نوموړي پرون په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې طالبانو د مذاکراتو مېز پرې ایښی دی او پر جګړه تمرکز کوي. د ده په وینا، طالبانو په تېرو څو میاشتو کې چې بین الافغاني خبرې روانې وې، جګړه شدیده کړې او زیاتوي چې دغه ډلې افغان وژنې ته ادامه ورکړې ده. حمدالله محب تور پورې کړی، چې طالبان سوله نه غواړي او په خبره یې، د دوی مشران او باداران دغه ډلې ته د سولې اجازه نه ورکوي. هغه په خپلو خبرو کې وویل: «طالبان سوله نه غواړي. دوی په دې موده کې ثابته کړه چې د سولې ملاتړي نه دي. دوی یوه دایمي بې ثباتي غواړي. دوی غواړي اوسنی نظام له منځه یوسي. دوی یوازې ځان افغانان بولي او هر څه یوازې د ځان بولي. دوی بل هېڅوک نه زغمي».

حمدالله محب د خپلو خبرو پر دوام ټینګار وکړ چې په وروستیو وختو کې یې له ګڼو امریکایي چارواکو سره خبرې اترې لرلي او داسې ښکاري چې په امریکایي حکومت کې د افغان جګړې په اړه یو واحد دریځ او فکر رامنځ ته شوی دی. هغه زیاته کړه چې طالبان د مذاکراتو لار نه خپلوي، نو له همدې امله افغان ځواکونه له دوی سره جګړې ته تیار دي. د ده په وینا: «افغان ځواکونه پیاوړي دي. طالبان مذاکرات نه کوي، له جګړو لاس نه اخلي، نو ځکه موږ اړ یو چې مقدسې دفاع ته ور وګرځو».


له دې سره جوخت د سیاسي مسایلو شنونکي پر طالبانو او حکومت نیوکه کوي، چې د ولسمشر جو بایډن پرېکړې ته منتظر دي او په دې منځ کې هره ورځ د افغانانو وینې توییږي. د سیاسي چارو شنونکی عبدالستار سعادت دا د غلامۍ یوه نوې بڼه بولي او په وینا یې، د جګړې ښکېل لوري پر خپله خاوره د نورو پرېکړو ته په تمه دي. هغه زیاتوي: «ټول منتظر دي چې د امریکې ولسمشر څه تصمیم نیسي. د یوه ملت برخلیک، سوله او جګړه، غم او خوشحالي، ژوند، مرګ، راتلونکې ټول یوه بل واکمن پورې اړه لري».

د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسی پېنبلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سپنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

## څلورمه برخه
کابوکي




دوراني: خو زما له انده اجیت ډوال د دې کار لپاره وړ شخص نه دی. که زما په واک کې وای، نو ما به آن د ده په تړاو یوه خبره لا نه وه کړې. خو که هر څه وي، نن سبا دی مهم شخص دی، لکه مودي چې مهم دی. زه درسره دا منم چې دی چالاکه دی او د یوې بلې ننداري د جوړولو لپاره به یو فرصت له لاسه نه ورکوي. که مودي یې ګټې او که پخپله دی، امتیاز یې ده ته رسېږي. خو د اړیکو په بدلولو او باثباته کولو کې زه پر ده حساب نه کوم. که دی لاهور ته راشي او که اسلاماباد ته، بس د هند ګټې به یې په پام کې وي، اوږدمهاله اړیکو ته به نه ګوري او بل پر موړ به یې هېڅ ګټه نه پیرزو کېږي.

دولت: زما له انده نن سبا د دواړو هېوادونو په اړیکو کې یوه ستونزه همدا ده. زما قضاوت به یو څه نیمګړی وي؛ ځکه لکه مخکې مې چې وویل چې دی زما همکار و، ملګری مې دی، نو په تړاو یې ډېر څه هم نه وایم. خو مهمه خبره دا ده چې متأسفانه د پاکستانیانو له انده ډوال یوه ستونزه ده.

سپنها: داسې ښکاري ژوره بې اعتمادي.

دولت: زه هم همدا خبره کوم. دا د تأسف وړ خبره ده. تاسو وویل چې د ده په تړاو آن د فکر کولو تکلیف نه کوئ، یو څوک د کسینجر په تړاو هم دغسې خبره کولای شي.یوه بله دا چې دی سخت دریځی نه دی.

دوراني: څوک یادوې؟

دولت: اجیت ډوال. دی د مودي پر نقش قدم روان دی. همدرانګه ده د ماني ډیکشېټ پر پلونو پل اېښود. زه به درته یوه خبره وکړم چې دی یو وخت د « [M.K.] Narayanan » پر لار روان و. زه یې درته په ضمانت وایم چې دی پر دې پوره باوري دی چې مودي پر هند د خدای لوی احسان کړی دی.

دوراني: ستا مطلب دا دی چې په راتلونکي کې موږ د مودي پر ځای پر ډوال کار وکړو؟

دولت: ډوال به خوند پر واخلي. ځکه خو زه درته وایم چې لاهور ته یې دعوت کړئ. ډوال پر پاکستان مئین دی!

### ۱۸
### سخت دریځي

سپنها: تاسو وویل چې د هند د بهرنیو چارو وزارت په افراطي ډول د پاکستان ضد دی. دا خبره که لږه تشریح کړئ.

دوراني: دا خبره مې په اسلاماباد او نورو ځایونو کې له هندي ډیپلوماټانو سره د کتنو د تجربې پر بنسټ درته وکړه. د ۲۰۰۴م په فبروري کې په ډیلي کې د پګواش کنفراس پر مهال د هند بهرنیو چارو وزیر د ماښامنۍ مېلمستیا کړې وه، دغلته مې له یو څو تنو سره وکتل. د خبرو اترو فضا ښه وه، خو ځینې تازه کاره ډیپلوماټان بېخي بل ډول غږېدل.یو تن و، ...یې په نوکه نه نیول کېده، قلقلې یې کولې چې ګواکې که موږ خپل چلند سم نه کړو نو هسې او داسې به وکړي.

تاولین سینګ په یوه مقاله کې لیکلي چې د هند د بهرنیو چارو وزارت داسې ښکاري ته به وایې د پاکستان خلاف پروګرام شوی دی. دی نو زما د احساس حقانیت ثبوت کړ. د وخت په تېرېدو سره سرې د ادارو او سازمانونو په دریځونو ښه پوهېږي. زه پر دې باور یم چې هره اداره خپل یو کلتور جوړوي، «سویلي بلاک» د پاکستان پر خلاف په سیاست کې د مذاکراتو او نورو سوله‌ییزو لار په پرتله د زور کاورولو پلوی دی.

دولت: د ډیپلوماټانو اړوند ویل کېږي چې متحجر فکرونه لري. ښايي دا د پارټېشن (د هند او پاکستان د وېش) میراث وي، یا به هم د بهرنیو چارو وزارت په دوسیو پورې تړاو لري؛ خو زما له انده دا به د ټول نظام نظر نه وي. دغسې خلک دواړو خواوو ته شته، په تېره هغوی دغسې دي چې د دواړو هېوادونو په پلازمېنو کې یې ماموریتونه کړي دي او ښه یې ترسره کړي دي. زموږ زیاتره ډیپلوماتان پوه او منطقي کسان دي. دا به نو تاسې هم راسره ومنئ چې په اسلاماباد کې زموږ جګپوړي استازي له پاکستاني چارواکو سره د اړیکو جوړولو او د دوی د ملګري کولو هڅې کوي. دوی پوره پوره خپلې هڅې کوي.

په ډیلي کې چې څه کېږي، هغه نو بېخي بل ډول دي.«ساتیابراتا پال» (چې په اسلاماباد کې یې ماموریت کړی دی) ځکه پاکستان پلوی دی چې د پاکستان ضد نه دی. دی روښانفکره انسان دی. دغسې نور هم ډېر کسان شته دي. لکه تاسې چې د «ماني ډېکشېټ» ، «شیو شنکر مېنون» او «ساتي لامبه» نومونه یاد کړل. همدغسې زموږ وروستي یو څو جګپوړو استازو لکه «ټي. سي. ای رګوان» او «شرات سبروال» ټولو خپلې دندې په ښه شکل سره سر ته رسولې دي.

خو زه دا خبره در سره منم چې ځینې د کنګل فکرونو والا کسان به هم پکې وي، دغسې کسان د پاکستان خوا ته هم شته دي.

**دوام لري...**

# کهکشان شرق د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




کهکشان شرق د لوړو زده کړو موسسه چې په هرات ولایت کې موقعیت لري، د بنسټ ډبره یې د ۱۳۹۱ کال په ژمي کې اېښودل شوې ده. د ۱۳۹۲ کال په پسرلي کې یې په رسمي توګه پر فعالیت پیل کړی دی او د خپلې لومړنۍ کانکور ازموینې له لارې یې نوي محصلین جذب کړل. د کهکشان شرق د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال او د اقتصاد پوهنځي استاد، نصیر احمد عادل وایي، کهکشان شرق د لوړو زده کړو موسسه درې پوهنځي لري چې اقتصاد، حقوق او سیاسي علوم او ادبیات پکې شامل دي. د ښاغلي عادل په وینا، اقتصاد پوهنځی یې یو ډیپارټمنټ اقتصاد او مدیریت، حقوق او سیاسي علوم یې دوه ډیپارټمنتونه، قضا او څارنوالي، او اداره او ډیپلوماسي او ادبیاتو پوهنځی یې هم درې ډیپارتمنتونه، ژورنالیزم، انګلیسي ادبیات او دري ادبیات لري.

د کهکشان شرق د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال نصیر احمد عادل وایي، که څه هم د یادې موسسې د نارینه او ښځینه محصلینو کره شمېره نه ده ورته معلومه، خو د ښځینه محصلینو شمېر یې د نارینه وو په پرتله زیات دی، په ځانګړې توګه ادبیاتو پوهنځي کې یې ډېری ښځینه محصلینې پر لوړو زده کړو بوختې دي.

ښاغلي عادل زیاته کړه، کهکشان شرق د لوړو زده کړو موسسه تر دې دمه د ماسترۍ پروګرام نه لري، خو تمه لري چې په نږدې راتلونکي کې د تضمین کیفیت پروسې له بشپړولو وروسته به خپلو محصلینو ته د ماسترۍ پروګرام هم پیل کړي.

ښاغلی نصیر احمد عادل وایي، که څه هم کهکشان د لوړو زده کړو موسسې له خپل هر پوهنځي څخه په مختلفو دورو کې محصلین فارغ کړي دي، خو په ټوله کې یادې موسسې تر دې دمه څوارلس دورې محصلین فارغ کړي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

ښاغلی عادل همدا راز وایي، دا چې په هرات ښار کې د لوړو زده کړو ډېرې نورې موسسې او پوهنتونونه هم فعالیت کوي، نو د کهکشان د لوړو زده کړو موسسې د نوو جذب کېدونکو محصلینو شمېر هم ټوپیر کوي، داسې چې په پسرلنۍ دوره کې د نوو جذب کېدونکو محصلینو شمېر له ۵۰۰ څخه تر ۶۰۰ پورې او په خزاني دوره کې یې شمېر له ۳۰۰ څخه تر ۴۰۰ پورې رسېږي.

د کهکشان د لوړو زده کړو موسسې علمي معاون نصیر احمد عادل همدا راز وایي، دوی د خپلو محصلینو لپاره په مختلفو کچو تخفیف په پام کې نیولی دی. نوموړی وایي، دوی په هرات ښار کې له ډېرو مدني ټولنو، علمي مرکزونو او خصوصي سکټور سره تفاهم لیکونه لاسلیک کړي او د محصلینو د تخفیف په برخه کې یې له هغوی سره همغږي کړې او د هغوی لخوا هم د تخفیف په برخه کې متقابله مرسته شوې ده. د نوموړي په وینا، دوی د محصلینو مالي او اقتصادي وضعیت ته په کتو په مختلفو سطحو کې تخفیف په پام کې نیولی او کهکشان د لوړو زده کړو موسسه د هرات ښار په کچه تر ټولو لږ فیس اخیستونکې موسسه ده.

ښاغلی عادل وایي، کهکشان د لوړو زده کړو موسسه د ورځې په دوو دورو کې تدریسي بهیر لري، یوه یې سهارنۍ دوره ده چې د سهار له ٦ تر ۹ بجو پورې او بله یې ماښامنۍ دوره ده چې درسي بهیر یې له ۴ تر ۷ بجو پورې دوام کوي.

ښاغلي نصیر احمد عادل همدا راز وایي، چې کهکشان د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو د علمي سویې د لوړولو په موخه کتابتون لري چې د خپلو درېو پوهنځیو د اړوند کتابونو سربېره، ډېر نور علمي کتابونه له ځان سره لري څو محصلین وکولای شي خپل د اړتیا وړ مالومات ترې لاسته راوړي او د خپلو اړوندو درسي مضامینو سربېره ډېر نور ګټور کتابونه هم پکې مطالعه کړي. د ښاغلي عادل په وینا، د یادې موسسې کتابتون زرګونه ټوکه کتابونه لري او محصلین یې په پراخه کچه خپل د اړتیا وړ مالومات ترې لاسته راوړي.

د یادې موسسې علمي معاون نصیر احمد عادل همدا راز زیاتوي، د دې لپاره چې د تضمین کیفیت اصل یې لا ډېر په پام کې نیولی وي، هڅه کوي چې دایمي استادان پر دنده وګوماري. نوموړی وایي، که څه هم اوسمهال دوی قراردادي استادان هم لري، خو هڅه کوي چې دایمي استادان مقرر کړي. د ښاغلي عادل په وینا، کهکشان د لوړو زده کړو موسسه په ټوله کې نیمه برخه ښځینه او نیمه برخه نارینه استادان لري چې د دواړو تر منځ یې تعادل په ښه توګه په پام کې نیولی دی.

ښاغلی عادل وایي، کهکشان د لوړو زده کړو موسسه د هرات ولایت پر دولتي پوهنتون سربېره، له ډېرو خصوصي پوهنتونونو لکه غالب پوهنتون، جامي پوهنتون، هریوا پوهنتون، اسیا پوهنتون او داسې نورو سره پراخې علمي اړیکې لري. د نوموړي په وینا، دوی له هېواده د باندې د هندوستان او ایران هېوادونو له ځینو پوهنتونونو سره علمي اړیکې او تفاهم لیکونه لري چې تمه ده په راتلونکي کې خپل محصلین د لوړو زده کړو د تر لاسه کولو په موخه یادو پوهنتونونو ته واستوي.

د کهکشان د لوړو زده کړو موسسې علمي معاون ښاغلي نصیر احمد عادل په وینا، دوی له خپل فعالیت راپدېخوا په مختلفو دورو کې خپل محصلین فارغ کړي دي او دوی ته یې په لوړو زده کړو وزارت کې تایید شوې ډیپلومونه او د فراغت سندونه ورکړي دي.

ښاغلی عادل زیاتوي، دوی د خپلو محصلینو د علمي سویې د لا لوړاوي په موخه تل هڅه کوي چې متخصص کادرونه پر دندو وګوماري او د محصلینو د ظرفیت لوړونې په برخه کې کار وکړي، چې په دې برخه کې یې ډېر علمي سمینارونه، ورکشاپونه او داسې نور علمي فعالیتونه پیل کړي دي.

د عادل په وینا، دوی د موسسې د لا پرمختګ او ښه‌والي په موخه ځینې پلانونه نیولي دي. دی وایي، له دې ډلې یې په پام کې ده څو په راتلونکو کلونو کې د تضمین کیفیت له مرحلو تېر شي او موسسه یې د پوهنتون کچې ته ارتقاع وکړي، محصلینو او استادانو ته د ماسترۍ پروګرام برابر کړي او له دې لارې د ټولنې په پرمختګ او ټولنې ته د خدمت په موخه د علمي کادرونو د وړاندې کولو په برخه کې ونډه واخلي.

د کهکشان د لوړو زده کړو موسسې علمي معاون وایي، د یادې موسسې په ګډون د لوړو زده کړو ټول خصوصي او دولتي بنسټونه ځینې ستونزې لري چې باید د دولت او لوړو زده کړو وزارت له لوري ځانګړې پاملرنه ورته وشي. ښاغلی عادل وایي، له دولت څخه غواړي چې د خصوصي پوهنتونونو د مالیاتي تعرفو، د جوازونو د تمدید او مالي مرستو په برخه کې د پام وړ اسانتیاوې رامنځته کړي. همدارنګه له لوړو زده کړو وزارت څخه غوښتنه کوي چې له علمي بنسټونو په ځانګړې توګه له خصوصي پوهنتونونو سره د پوهنځیو د جواز اخیستلو، د ډیپارټمنټونو د زیاتوالي د اجازې، تحصیلي اسنادو او داسې نورو برخو کې د پام وړ مرستې وکړي او غوښتنو ته یې پر وخت رسیدګي وشي.

# له لاریونونو د ملاتړ په غبرگون کې؛

## روسیې د یو شمېر اروپایي هېوادونو ډیپلوماټان له مسکو څخه ایستلي دي

روسي چارواکي وايي چې په دغه هېواد کې د جنورۍ د ۲۳مې په لاريونونو کې يې د پولنډ، جرمني او سويډن د يو شمېر ډيپلوماټانو او کونسلي کارکوونکو د گډون راپورونه ثبت کړي دي.

د روسيې د بهرنيو چارو وزارت په اعلاميه کې راغلي چې د دغو دريو هېوادونو سفيران يا شارژدافيران احضار شوي او د روسيې شکايت ور اورول شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د روسيې د حکومت د مخالف سياستوال الکسي ناوالني د نيول کېدو په غبرگون د روسيې په پلازمېنه مسکو او گڼو نورو ښارونو کې له څو ورځو راهيسې پرله پسې پراخ لاريونونه شوي دي.

ناوالنی د جنورۍ په ۱۷مه له جرمني مسکو ته په ستنېدو سمدستي د پوليسو له خوا ونيول شو. يوې محکمې نوموړی تېره اونۍ په درې نيم کاله تنفيذي بند محکوم کړ.

د لاريونونو پر مهال پوليسو د لاريونوالو پر وړاندې له له زور زياتي کار اخيستی او زرگونه کسان يې نيولي دي. تازه د ځينو اروپايي هېوادونو د ډيپلوماټانو د اخراج پېښې په غبرگون د فرانسې ولسمشر امانوئل مکرون تُند غبرگون ښودلی.

مکرون چې د جرمنۍ له لومړۍ وزيرې انگېلا مېرکل سره په يوه مجازي کنفرانس کې غږېده، په دې اړه ويلي: «د ناوالني د قضيې په اړه څه چې له پيله تر پايه شوي، زه يې په کلکه غندم. مسموول، روسيې ته د هغه په بېرته ستنېدو باندې ناوړه وضعيت، بنديزونه او محکوميت او نن د جرمني، پولنډ او سويډن ډيپلوماټانو اخراج چې روسيې يې پرېکړه کړې، زه فکر کوم موږ بايد سياسي کړکېچونه، ان کورني هغه هم په دې ډول کابو نه کړو. زه له هغو دريو هېوادونو سره خپل يووالی څرگندوم چې ډيپلوماټان يې ايستل شوي دي. زه به په دې اړه روسيې ته د واضح او غښتلو پيغامونو لېږلو ته دوام ورکړم.»

په ورته وخت کې د جرمني لومړۍ وزيرې انگېلا مېرکل هم د ډيپلوماټانو ايستل غيرموجه بللي او ويلي يې دي چې دا د هماغو مواردو يوه بله بېله ده، چې اوس په روسيه کې تېرېږي او د قانون له حاکميت سره ډېر واټن لري.

روسيې داسې مهال د دريو اروپايي هېوادونو د يو شمېر ډيپلوماټانو د ايستلو پرېکړه کړې چې د اروپايي ټولنې د بهرني سياست مشر جوزېف بورېل روسيې ته په پنځه ورځني سفر وتلی دی.

د اروپايي ټولنې په يوه بيان کې راغلي چې بورېل د روسيې د بهرنيو چارو له وزير سرگي لاوروف سره د خبرو پر وخت د دغو اروپايي ډيپلوماټانو په اړه د روسيې له پرېکړې خبر شو.

په بيان کې د بورېل په حواله په يو شمېر اروپايي ډيپلوماټانو د روسيې تورونه رد شوي او غوښتنه شوې چې روسيه بايد په خپله پرېکړه بيا کتنه وکړي. بورېل ويلي چې د اروپايي ټولنې او روسيې اړيکې تر ټولو ټيټې کچې ته رسېدلې دي.



## عبدالله: طالبان دې د بې ځايه سفرونو پر ځای د جگړې پر پای ته رسېدو تمرکز وکړي

د ملي مصالحې شورا رييس عبدالله عبدالله د دويم پړاو مذاکراتو د پيل پر ځنډ نيوکه کړې او وايي چې طالب پلاوی د مذاکراتو پر ځای په سفرونو او حاشيوي بحثونو بوخت دی.

عبدالله د مذاکراتو نه پيلولو په اړه د طالبانو پلاوی په بهانه جوړولو تورن کړی او وايي چې افغانستان کې يې تاوتريخوالی زيات کړی دی. نوموړي ويلي: «په دې باور يو چې د افغانستان قضيه لومړی په افغانانو پورې اړه لري او موږ بايد د جگړې پای ته رسېدو او ورور وژنې په اړه له يو بل سره کښېنو، د اسلام مبارک دين د لارښوونې او ديني ارشاداتو په اساس او نړيوالو عرف او قوانينو او د هېواد د لويو گټو په نظر کې نيولو سره خپله ستونزه يو سياسي حل ته د رسېدو په هدف هواره کړو.»



هغه په دوحه کې د سولې مذاکرات د افغانستان د ستونزې هوارې لپاره يو استثنايي فرصت بللی او زياته يې کړې يې ده چې طالبان بايد له دغه فرصت څخه گټه واخلي. په همدې حال کې په دوحه کې د طالبانو د سياسي دفتر مشر ملا عبدالغني برادر د يوه طالب پلاوي مشرۍ د ترکمنستان پلازمېنې عشق اباد ته تللی دی.

په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر وياند ډاکټر محمد نعيم پر خپل ټويټر ليکلي، چې ترکمنستان ته د ملا برادر سفر د هغه هېواد په رسمي بلنه تر سره کېږي. نوموړي زياته کړې چې ټاکل شوې دغه طالب پلاوی د ترکمنستان له چارواکو سره د افغانستان او ترکمنستان د اړيکو او سياسي تحولاتو په اړه خبرې وکړي.

دا په نږدې دوو مياشتو کې د سيمې هېوادونو ته د طالبانو د سياسي دفتر د استازو څلورم سفر دی. په دغه موده کې يې پاکستان، ايران، روسيې او ترکمنستان ته سفرونه کړي دي

د سيمې هېوادونو ته د طالب استازو سفرونه داسې مهال تر سره کېږي، چې له نږدې دريو اونيو راپه دېخوا د افغانستان د اسلامي جمهوريت او طالب استازو ترمنځ په دوحه کې بين الافغاني مذاکرات دربدلي او دواړه لورې د مذاکراتو د اجنډا پر جوړولو او ترتيب نه دي توانېدلي.

## صرافانو د افغانستان بانک د وروستۍ پرېکړې په اعتراض کې تر نامعلومې نېټې د کار بنديز اعلان کړی

د صرافانو ټولنې په کابل او نورو ولايتونو کې د افغانستان بانک د پرېکړې په غبرگون کې د اعتراض په ډول د صرافيو لوی او کوچني مارکېټونه تړلي دي.

د صرافانو ټولنې په يوې اعلاميې کې ويلي، چې د پولي خدماتو ياد مارکېټونه به د افغانستان بانک له خوا د دوی په وينا، د ستونزې تر هوارې پورې بند وي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان بانک په يوه تازه اقدام کې ويلي، چې ټولې صرافۍ بايد د انفرادي جواز پر ځای بايد شرکتي جواز تر لاسه کړي، خو د صرافانو ټولنې په يوې اعلاميې کې ويلي، چې د صرافيو شرکتي جوازونه بايد اختياري وي.

يادې ټولنې همدارنگه زياته کړې چې مخکې د صرافيو او پولي خدماتو انفرادي جوازونه د درې کلونو لپاره تمديدل، خو اوس وايي چې د افغانستان بانک دغه پروسه لغوه کړې چې په وينا يې، دوی ته يې ستونزې پيدا کړې دي.



د افغانستان د صرافانو ټولنې په اعلاميه کې راغلي: «د افغانستان بانک بايد د صرافيو انفرادي جوازونه تمديد او توزيع کړي، په مرکز او ولايتونو کې د لاس پلورونکو صرافانو فعاليت دې د صرافانو له مقررې سره تنظيم او اجرا شي، په ولايتونو کې دې د صرافيو د نماينده گيو جوازونه دې تمديد شي.»

خو د افغانستان بانک بيا د صرافانو اعتراض ته په غبرگون کې ويلي چې له انفرادي څخه شرکتي جواز ته پرېکړه له نړيوالو شريکانو سره په شريکه شوې ده.

د افغانستان بانک د نشراتي څانگې لوی مسول حسيب الله نوري ويلي چې ياده پروسه کولای شي د ترهگرۍ د تمويل او پيسو مينځلو پر وړاندې اغېزمنه تمامه شي.

نوموړي زياته کړې: «له انفرادي څخه شرکتي جواز ته د صرافيو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو د جواز اړول د انفرادي جواز په شان اسانه دي.»

د افغانستان بانک ويلي چې د شرکتي جواز د تر لاسه کولو په بهير کې يې د انفرادي جواز په پرتله گڼې اسانتياوې رامنځته کړې دي.

ياد بانک ويلي چې د شرکتي جواز په ترلاسه کولو سره يوازې ثابته ماليه ورکول کېږي، د کلني بېلانس وړاندې کولو ته اړتيا نشته، ياد جواز اوس څو نفري د نظارت پلاوي ته اړتيا نه لري او په وينا يې، يوازې د جواز مالک کولی شي چې د نظارت پلاوي و اووسي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳ |
| € | ۹۲,۸۵ |
| Rp. | ۴۸۰ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۴,۱ |

### بېړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي

**مرستيال:** شفيق اميرزی

**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي

**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري

**گرافيک او ډيزاين:** ارمان

**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱۹مه | د ۲۰۲۱ د فبروري اوومه | ٦٧٦مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۲٤ | ۱۵ | ۱۹ | ۲٤ | ۱۳ |
| ۲ | ٦ | ۵ | ۸ | ۹ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۳ | لمر ختل ۰٦:٤۸ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۵:۲۸ | ماخوستن ۰٦:۵۳

## نړۍ




### بایډن: ډونالډ ټرمپ باید محرمو اطلاعاتو ته لاسرسی ونه لري



د امریکا ولسمشر جو بایډن په خپله تازه مرکه کې د ټرمپ د پلویانو له لوري پر کانګرېس مانۍ برید ته په اشارې ویلي، چې پخوانی ولسمشر ډونالډ ټرمپ باید محرمو اطلاعاتو ته لاسرسی ونه لري.
بایډن له سي بي ایس سره په تازه مرکه کې ویلي، ټرمپ هغه څوک دی چې خپل پلویان یې د امریکا په تر ټولو معتبر ادرس باندې یرغل ته هڅولي، نو پر همدې بنسټ نوموړی د امریکا امنیت او یووالي ته ستر ګواښ دی. هغه د خپلو خبرو پر دوام له اطلاعاتي ادارو غوښتي چې نوموړي ته دې محرم اطلاعات په واک کې نه ورکوي.
دا په داسې حال کې ده چې د پخواني ولسمشر ټرمپ ملاتړو په جنوري میاشت کې د امریکا پر کانګرېس برید وکړ، مالونه یې ترې ولوټل او د څو ساعتونو لپاره یې د کانګرېس وداني تر خپل کنټرول لاندې راوستې وه. دغه راز په یاده ورځ د پولیسو او د ټرمپ د قهرجنو پلویانو په نښتو کې پنځه کسان ووژل او ګڼ نور ټپیان شول.
بلخوا امریکایي چارواکي وايي چې د مخکني ولسمشر دونالډ ټرمپ د استیضاح د ځانګړې محکمې پرمهال به زرګونه پولیس او امنیتي سرتېري په ښار کې فعالیت کوي.
د ټرمپ د استیضاح محکمه همدا اونۍ پیلېږي او چارواکي اندېښنه لري، هسې نه ځیني هغه افراطي امریکایان چې د ولسمشرۍ د ټاکنو په نتایجو خوښ او راضي نه دي، کوم بد اقدام وکړي.

### تازه شمېرې:
### په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر له ۱۰٦ میلیونو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۰٦ میلیونه او څلور زره او ٤٦ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۳۱۱زره او ۳٤ کسان مړه شوي او نږدې ۷۸ میلیونه نور ترې بېرته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپوړونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۷ میلیونه او ٤۰۷ زره او ۳۲٤ ته رسېدلي او ٤۷۰ زره او ۷۰۵ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۸۱۵ زره او ۲۲۲مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د نهه میلیونه او ٤٤۹ زره او ۸۸مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دربیم، روسیه د دری میلیونه او ۹۵۱ زره او ۲۳۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او بریټانیا د دری میلیونه او ۹۱۱ زره او ۵۷۳مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي. فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

### دنفورد: پیش از تغییر در نیروهای امریکایی شرایط توافق دوحه عملی شود



جنرال جوزف دنفورد، رئیس پیشین ستاد مشترک ارتش امریکا، تأکید می‌ورزد که پیش از تغییر در شمار نیروهای امریکایی در افغانستان، باید شرایط توافق‌نامهٔ صلح میان واشنگتن و طالبان، عملی شوند.
دنفورد در گفت‌وگو با طلوع‌نیوز می‌گوید که آیندهٔ افغانستان باید با ارزش‌های کنونی قانون اساسی و با پیشرفت‌های دو دههٔ اخیر این کشور سازگار باشد.
دنفورد اکنون یکی از رئیسان گروهٔ مطالعه افغانستان است و این گروه از سوی کانگرس امریکا گزارشی دربارهٔ افغانستان تهیه کرده‌است.
او گفت: «درک آنان (طالبان) این است که تمامی نیروهای امریکایی در اول ماه می سال ۲۰۲۱، این‌جا را ترک خواهند کرد. ما پیشنهاد کرده‌ایم که نیروهای امریکایی، در اول ماه می ۲۰۲۱ بیرون نشوند؛ مگر این که شرایط توافق‌نامه فبروری ۲۰۲۰ عملی گردند.»
جنرال دنفورد چگونه‌گی پیشرفت را در روند صلح نیز از زاویه دیگری می‌بیند: «ما حقایقی داریم. طرف‌ها در دوحه با هم دیدار می‌کنند و این یک کار مثبت است؛ اما پس از فبروری ۲۰۲۰، پیشرفتی را که فکر می‌کنیم برای تکمیل شدن توافق نیاز است، نداریم.»
در همین‌حال، جنرال دنفورد تأکید می‌ورزد که تصمیم‌گیری دربارهٔ آینده افغانستان از آن خود افغانان است: «ما می‌خواهیم به افغانان این فرصت را بدهیم که خودشان دربارهٔ آیندهٔ شان، آینده‌یی که از بسیاری از افغانان درباره‌اش شنیده‌ایم، تصمیم بگیرند. این آینده باید با ارزش‌های کنونی قانون اساسی و با پیشرفت‌های دو دهه گذشته افغانان سازگار باشد.»


## ژوند

### هغه شېبې چې توره مو پکې کړې؛ مه هېروئ




کله چې د شجاعت کوم کار تر سره کوی، هڅه وکړئ هغه احساس چې په هغه شېبه کې مو درلود، در په یاد کړئ. یا دا چې لږ تر لږه تر کومه ځایه چې کولای شی هغه ښه در په زړه کړئ. ویې نمانځئ او په یارې جشن ونیسئ، عکس واخلئ، در په یادېدل یې تجربه کړئ. لنډه دا هر څه چې وي، داسې یو کار وکړئ څو تاسو ته هغه شېبې در په زړه کړي، چې خومره ښه ځلېدلي وی او خومره ښه کار مو تر سره کړی و. دا مهمه نه ده چې موضوع څه وه، کوچنۍ وه او که لویه، مهمه دا ده چې تاسو په زړورتیا یو کار تر سره کړی دی. دغه څه تاسو ته یو ځانګړی حس درکوي، کار کولو او پرمختګ ته مو هڅوي، انګېزه مو یو پر دوه کېږي. دغه کار نه یوازې دا چې خوشاله کوي مو، بلکې د دغه ډول نورو شجاعانه کړنو د تر سره کولو ورتیا درکوي. په فمیلي سرکل (Family Cricle) مجله کې ګای نورتن ادلمن (Gay Northon Edelman) دې شېبې ته د «قدرت شېبې» نوم ورکړی دی.

### ۲۰۰ مېګاپکسله کامره لرونکی موبایل بازار ته راځي



تر دې دمه ۱۰۸ مېګاپکسله تر ټولو پیاوړې کامره ده چې د سامسُنګ ځیرکو موبایلونو سربېره، ځینو نورو ځیرکو موبایلونو کې هم کارول شوې ده؛ خو ډېر ژر به د نړۍ لومړنی ۲۰۰ مېګاپکسله کامره لرونکی ځیرک موبایل هم مینه‌والو ته معرفي شي، چې دغه ځیرک موبایل به د هېڅ کومې یوې پېژندل شوې کمپنۍ نه وي. د چینایي ټولنیزې رسنۍ وېب پاڼه(ویبو) کې ادعا شوې چې د زي ټي اي (ZTE) چینایۍ کمپنۍ اېکسون۳۰ پرو نومی ځیرک موبایل به لومړنی ځیرک موبایل وي، چې د سامسُنګ کمپنۍ ۲۰۰ مېګاپکسله اېس۵ کې جي اېن ډي سېنسر سره به خرڅلاو ته وړاندې شي. د یادونې ده چې خپله سامسُنګ کمپنۍ تر دې دمه رسماً په دې اړه څه نه دي ویلي او د کامرې دغه سېنسر هم تر اوسه په رسمي ډول نه دی معرفي شوی. د دغه ځیرک موبایل نورو ځانګړنو او بیې په اړه څه نه دي ویل شوي، خو د دې کمپنۍ یوه کارکوونکي ویلي چې دغه ځیرک موبایل به د کوالکام کمپنۍ تر ټولو پیاوړې پروسېسر، سنپ ډراګن۸۸۸، سره خرڅلاو ته وړاندې شي.



STUDENT'S
ACCOUNT
د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب
عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډېبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.
www.azizibank.af
1515
عزیزي بانک
Azizi Bank